**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## روژه سر کال بیا په داسې حال کې را ورسېده چې امت لا هم له ډیرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی

حزب التحریر خوښ دی چې د کینیا او ټولې نړۍ مسلمانانو ته د رمضان د مبارکې میاشتې د را رسیدو په پار مبارکي وایي. لکه څرنګه چې موږ دغه د رحمت، مغفرت او د دوزخ له اور څخه د خلاصون میاشتې ته داخل شولو، غواړو چې مسلمانانو ته دا یادونه وکړو چې قرانکریم په اصلي معنی تلاوت کړي او اوامرو ته یې غاړه کېږدي. رمضان په داسې حال کې راورسیدو چې د نایروبي پایتخت په ګډون په ځینو سیمو کې له کرونا ویروس سره د مبارزې لپاره په تګ راتګ بندیزونه لګېدلي دي، چې یقیناً ډېرو کینیایانو ته یې اقتصادي زیان رسولی دی.

سربېره پردې، زموږ مسلمان وروڼه او خویندې به ونه شي کولی چې په دغه ټوله میاشت کې لمونځ په جماعت ادا کړي. موږ وایو په جوماتونو کې د لمونځ کوونکو د شمېر محدودول د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې بې پروايي ده. د اسلام مبارک دین د جومات د بندېدلو امر نه کوي، بلکي وايي چې په دې ناروغۍ اخته کسان باید تدابیر په پام کې ونیسي او جومات ته له ننوتلو څخه منع شي. سربېره پردې، د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره باید له ماسک، معایناتو، د عفوني ضد موادو او نور تدابیرو څخه ګټه واخیستل شي.

رمضان په داسې یو اقتصادي حالت کې را رسیږي چې دولت د بهرني پور اخیستلو غوښتنه ډېره لوړه کړې ده. نایروبي د کرونا د راتلونکې څپې سره د مبارزې او د زیانمنو د پور راټیټولو لپاره د پیسو له نړیوال صندوق سره د دریو کلونو لپاره معامله وکړه. د پیسو د نړیوال صندوق د وژونکې نسخې سره پور به د اقتصاد د لوړوالي په ځای د میلیونونو کینیایانو د اقتصادي درد د لوړوالي سبب شي. د دغه روان کال له پیل څخه د لومړنیو توکو لکه: اوړو، شیدو، غوړیو او بورې قیمتونه درې چنده لوړشول. په پانګونه کې غیر معقولانه اقتصادي پالیسۍ رامنځته شوي دي او دا په ګوته کوي، چې نرخ د اجناسو د تولید او مصرف لپاره یو ټاکونکی عامل دي. پانګوال دې ته اړ کوي چې د اجناسو تولید او توزیع کنترول کړي.

په حقیقت کې دا د یادولو وړ ده چې پانګوال نظامونه د خپلو اتباعو غوښتنوته هیڅ ارزښت نه ورکوي. رمضان باید د ټولو مسلمانانو په ګټه وی، خو اوس د امت وضعیت په ځانګړې ډول په اسلامي نړۍ کې ډېر وحشتناک دی. په میانمار، سوریه، فلسطین او یمن کې مسلمانان تر اوسه پورې له سخت ظلم سره لاس او ګرېوان دي. دا تکلیفونه د دوی په ژوند کې د قران د نه پلي کېدو له امله دي. مسلمانان باید پوه شي چې دا تکلیفونه به یوازې هغه وخت پای ته رسیږي، چې دوی په اسلامي خاورو کې د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس له لارې خپل مکلفیت ادا کړي.

لکه څرنګه چې موږ نن په یوه سیکولر لیبرال ټولنه کې ژوند کوو چې دین ته د مهمې مسلې په توګه نه ګوري، نو موږ باید پوه شو چې اسلام د ژوند کولو لپاره یو جامع دین دی، له همدې امله موږ ته امر شوی دی چې په سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي چارو کې یې بشپړ پلی کړو. بلاخره، موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ ته توفیق راکړي ترڅو د روژې اصلي موخه چې الله سبحانه وتعالی ذکر کړې ده یعنې تقوا ده تر لاسه کړو. چې دا د مسلمانانو لپاره تر ټولو لوړه مرتبه ده، تر څو د الله سبحانه وتعالی احکام ومنو.

**شباني موالیمي**

**د حزب التحریر- کینیا مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د شعبان ۲۸مه**

**۲۰۲۱م کال، د اپریل ۱۰مه**

**د صدور ګڼه: ۱۰/ ۱۴۴۲**